لاتویا

# زما شخصي معلومات ولې EURODAC ته لیږدول شوي دي؟

س ډول

**د لنډمهاله خونديتوب ذينفعان (ګټه اخيستونکي)**



PASHTO

## دا بروشور زه ولې تر لاسه کوم؟

تاسې د اروپايي اتحادیې (EU) د يوه غړي هېواد له خوا د لنډمهاله خونديتوب د ګټهاخيستونکي په توګه ثبت شوي ياست.

په دغه بروشور کې د معلوماتو په اړه کوم چې د چارواکو له خوا به وساتل شي او دا چې د څومره وخت لپاره به وساتل شي، زيات معلومات شته.

## ولې بايد زه خپل د ګوتو نښې او انځور ورکړم؟

تاسې خپل هېواد پرېښی او اوس په دې هېواد کې د لنډمهاله خونديتوب ګټه اخيستونکی ياست.

د خونديتوب دا ډول وضعيت لنډمهاله دی. د اروپايي ټولنې غړي دولتونه به په نوبتي ډول پرېکړه وکړي چې ايا دا خونديتوب به ادامه ومومي که نه.

د دې هېواد چارواکي به ستاسو د ګوتو نښې او انځور واخلي. دا معلومات او ستاسو د پېژندنې له معلوماتو او نورو اړوندو معلوماتو سره به يو ځای، د Eurodac ډيټابيز ته واستول شي.

Eurodac د مشخصو کټګوريو لرونکي خلک د هغوی د ګوتو د نښو او انځور په بې ساري مشخصاتو سره نښلوي، کوم چې د اروپايي ټولنې+ يوه هېواد اتباع نه دي.

دا ډيټابيز د اروپايي ټولنې+ د 31 هېوادونو له خوا کارول کيږي، چې کولای شي ستاسو معلومات پروسس او ترلاسه کړي. د اروپايي ټولنې+ هېوادونه د همدې بروشور په پای کې راغلي دي.

**تاسې اوس په لاتويا کې ياست، کوم چې د اروپايي ټولنې+ يو هېواد دی.**
**د اروپايي ټولنې+ هېوادونه دا دي:**

د اروپايي ټولنې (EU27) غړي هېوادونه دا موارد دي: اطريش، بلجيم، بلغاريه، کروشيا، قبرس، چيک جمهوريت، ډنمارک، استونيا، فنلينډ، فرانسه، جرمني، يونان، هنګري، ايټاليا، لاټويا، ليتوانيا، لوکزامبورګ، مالټا، هالنډ، پولنډ، پرتګال، د ايرلينډ جمهوريت، رومانيا، سلواکيا، سلونيا، هسپانيه، سويډن او

4 نور هېوادونه: ايسلېنډ، ليچتنستين، ناروې، سويټزرلنډ.

## په EURODAC کې کوم معلومات زېرمه کېږي؟



لاندې معلومات له پخوا نه په کې زېرمه دي:

- ستاسې د ګوتو نښې
- ستاسې د مخ انځور
- ټول هغه نومونه چې تاسې اوس یا پخوا کارولي دي
- ستاسې د زوکړې نېټه
- ستاسې ملیت یا ملیتونه
- ستاسې جنسیت
- ستاسې د هویت یا د سفر د اسنادو کاپي کوم چې تاسې کارولي دي، او که چېرته موجود وي نو د هغوی د اعتبار په اړه معلومات هم په کې شامل دي
- د هغه افسر کارن پېژند (User ID) چې ستاسو د ګوتو نښې او عکس یې اخیستی، او هغه نېټې چې ستاسو معلومات اخیستل شوي او لېږل شوي دي
- هغه د اروپایي اتحادیې (EU) غړې هېواد، ځای او نېټه چې تاسو پکې د موقتي ساتنې د ګټه‌اخیستونکي په توګه ثبت شوي یاست

تاسو حق لرئ چې Eurodac کې ثبت شوي ناسم معلوماتو ته لاسرسی ولرئ او اصلاح یې کړئ، او غوښتنه وکړئ چې ستاسو معلومات حذف شي که دا معلومات په ناقانونه توګه اداره شوي وي. تاسو کولای شئ د معلوماتو کنټرولر (data controller) سره اړیکه ونیسئ. د معلوماتو د کنټرولر د اړیکې جزئیات کېدای شي د **«Eurodac په اړه د څه پوهېدو ته اړتیا لرئ»** په بروشور کې ومومئ.

## ایا په EURODAC کې کوم نور معلومات زېرمه کېږي؟

که د اروپايي ټولنې کوم غړی دولت مکلف وي چې ستاسې د ګوتو نښې واخلي، يا دا وګڼي چې تاسې د خپل چلند له امله د لنډمهاله خونديتوب لپاره ور نه ياست، نو هغوی بايد دا معلومات په Eurodac کې ثبت کړي.

دا حالت هغه وخت رامنځته کېدای شي که داسې معلومات موجود وي چې دا وښيي چې تاسو:

- يو ډېر جدي جرم ترسره کړی وي، لکه د جګړې جرم يا د بشريت پر ضد جرمونه.
- اروپا ته له راتګ مخکې په بل هېواد کې مو يو جدي جرم ترسره کړی وي
- يوه داسې کړنه مو ترسره کړې وي چې د ملګرو ملتونو له اصولو سره په ټکر کې وي.

## زما شخصي معلومات به په Eurodac کې تر کومې مودې پورې ثبت وي؟



ستاسې معلومات به تر هغه وخته پورې خوندي پاتې شي تر څو چې ستاسې د لنډمهاله خونديتوب حالت معتبر وي. که ستاسې د خونديتوب حالت پای ته ورسېږي، نو ستاسې معلومات به ړنګ شي

دا بروشور يوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله حقونه يا مکلفيتونه نه رامنځته کوي. نه د اروپايي اتحاديې د پناه غوښتنې اداره (EUAA) او نه هم کوم شخص چې د دې ادارې په استازيتوب عمل کوي، په دې يادښت کې د شاملو معلوماتو د احتمالي کارونې مسؤل نه ګڼل کېږي.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحاديې اداره، 2025